# کله چې په تاسو کې یو ځوک له خپل (مسلمان) ورور سره مخ شي نو سلام دې پرې واچوي، که چېرته یې په منځ کې ونه، دیوال او یا ډبره راشي او بیا ورسره مخ شي، نو بیا دې پرې هم سلام واچوي

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "کله چې په تاسو کې یو ځوک له خپل (مسلمان) ورور سره مخ شي نو سلام دې پرې واچوي، که چېرته یې په منځ کې ونه، دیوال او یا ډبره راشي او بیا ورسره مخ شي، نو بیا دې پرې هم سلام واچوي".
[صحيح دی] [ابو داود روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم یو مسلمان بل مسلمان ته په سلام اچولو هڅوي؛ هر کله چې ورسره مخ کیږي، که څه هم سره یو ځای روان وي او کله یې چې تر منځه کوم شی خنډ واقع شي لکه: ونه، دیوال او یا لویه ډبره او بیا ورسره مخ شي، نو بیا ځل دې پرې سلام واچوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3552

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee